د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الأُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: مؤمِن له پکار دي چې زۀ او زما مال پۀ رَبِّ کريم خرڅ شوي دي، زما هيڅ يو څيز خپل نشته، خپل هر اندام، هر وخت او هر مال دې د الله پاک د مرضی مطابق استعمالوي، ګني نو خائن (يعني خيانت کوونکے) به وي۔ [1]

## د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک

وَاِنَّ لِنَفْسِكَ عَلَيْكَ حَقًّا

ترجمه: بے شکه ستا د ځان پۀ تا باندې حق دے۔[2]

## د خپل ځان درې حقونه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! زمونږ دا وجود، زمونږ دا لاسونه، زمونږه هره يوه ساه پۀ اصل کښې زمونږ نۀ بلکې د الله پاک راعطا کړے شوے امانت دے، د دې امانت حفاظت پۀ مونږ تولو باندې لازم دے۔ ځکه پۀ مونږ باندې د خپل ذات هم حقونه دي۔ راځئ چې نن د خپل ځان درې حقونه زده کړو:

وړومبے حق: ځان د ګناهونو نه بچ کول

وضاحت: الله پاک فرمائي:

قُوْۤا اَنْفُسَكُمْ وَ اَهْلِيْكُمْ نَارًا

(پاره:28سورۂ تحريم :6)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: اے ايمان والؤ! خپل ځانونه او خپل کور والا د ځغه وور نه بچ کړئ۔

يعني د داسې کارونو نه ځکله هم بچ شئ او خپل کور والا هم بچ کړئ کوم چې تاسو

---

[1]... تفسير نعيمی، جلد:11، صفحه:78 بتغير۔

[2]... بخاری۔

او ستاسو کور والا د دوزخ حقدار جوړ کړي-

ګناه کول پۀ خپل ځان باندي ظلم دے لهذا د هري غټي وړي ګناه نه ځان بچ کول زمونږ د ځان نبيادي حق دے-

**دويم حق**: ځان د هلاکت نه بچ کول

**وضاحت**: الله پاک فرمائي:

وَلَا تُلْقُوْا بِاَيْدِيْكُمْ اِلَى التَّهْلُكَةِ ۚۛ

(پاره:1، سورۀ بقره:195)

ترجمۀ كنزُ العِرفان: او پۀ خپلو لاسو خپل ځان پۀ هلاکت کښي مۀ اچوئ-

**د ځان پۀ هلاکت کښي د اچولو صورتونه:** ❀ خود کشي ❀ د طاقت نه زيات بوج پۀ سر اچول ❀ قصداً عمداً ضرر رسوونکے څيز خوړل ❀ نشه کول ❀ ون ويلنګ کول وغيره ټول پۀ هلاکت کښي اچوونکي کارونه دي-هر هغه کار چي پۀ هلاکت د اچولو سبب وي دهغي نه بچ کيدل هم د خپل ځان د حقونه نه دي-

**دريم حق**: ځان د رسوايۍ نه بچ کول

**وضاحت**: هر هغه کار کوم چي زمونږ د رسوايۍ سبب جوړيږي، د هغي نه ځان بچ کول پۀ مونږ باندي لازم او ضروري دي- ځان رسوايۍ ته وړاندي کول حرام دي- (1) د دي مثالونه ❀ دروغ وئيل ❀ غلا کول ❀ دوکه ورکول ❀ جواري کول ❀ناحقه سوال کول غرض:هر هغه کار چي د خپل تذليل سبب جوړيږي د هغي نه بچ کيدل په مونږه ټولو باندي لازم دي -پۀ حديث پاک کښي دي :څوک چي بغير د څه مجبورئ نه خپل ځان ذلّت ته وړاندي کړي هغه زمونږ نه نۀ دے (2)

---

[1]… فتاوی اہلسنت، فتویٰ نمبر:Gul1883۔

[2]..معجم اوسط، جلد:1، صفحه:147، حديث:471۔

